# د حج ورځې او

# تبلیغِ مصطفٰی صلی اللہ علیہ وسلم

05-JUNE-2025



هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 5 جون، کال 2025ء (بمطابق: 8 ذُو الحج، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د حج ورځې او تبليغِ مصطفٰی ﷺ

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- کعبې ته د کتلو فضيلت
- د الله او د رسول خليفه څوک...؟
- د دِين د خادم فضيلت
- د نيکۍ د دعوت عام کولو طريقه

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت شیخ احمد بن ثابت مَغربي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: ما دیوال ته ډډه وهلي وه او د قِبلې طرف ته مې مخ کړےوو او د درودِ پاک په موضوع مې مضمون ترتیب کولو، په دغه وخت ما له خوب راغلو او زما سترګې ورغلې- ما په خوب کښې د الله پاک مقربې فرښتے ❀ حضرت جبرائیل ❀ حضرت میکائیل ❀ حضرت اسرافیل ❀ او حضرت عزرائیل عَلَیۡهِمُ السَّلَام ولیدلې- (د دریو مقربو فرښتو د خبرو ذِکر کولو نه پس شیخ احمد بن ثابت رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي:) ما حضرت عزرائیل عَلَیۡهِ السَّلَام ته عرض وکړو: زهٔ د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله درکووم او خواست کووم چې تاسو زما د ساه اخستو پهٔ وخت زما سره نرمي وکړئ- (هغوئي) وفرمائیل: پهٔ رسولِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پهٔ کثرت سره دُرُودِ پاک لوله- (1)

آس ہے کوئی نہ پاس ایک تمہاری ہے آس | بس ہے یہی آسرا تم پہ کروڑوں درود (2)

---

1 … سعادۃ الدارین، صفحه: 125 ملخصًا۔

2 … حدائقِ بخشش، صفحه: 267۔

وضاحت: يَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو نه علاوه ما د بل چا نه طمع نۀ ده لرلې، نۀ څوک داسې شته چې د هغۀ نه طمع وه لرلے شي، زما خو بس هم تاسو اسره او ملاتړ يئ، پۀ تاسو دې پۀ کروړونو درودونه وي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ✿ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ✿ پۀ اَدب به کښينم ✿ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ✿ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خانه کعبې ته د کتلو فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د حج مقدسې او مبارکې ورځې دي، خوش قِسمته دي څوک چې د حج پۀ سفر روانيږي او د کعبې شريفې زيارت کوي، د طوافونو نه خوندونه اخلي، د صفا او مروه سعي کوي، پۀ مُزدَلِفه او عرفات کښې ايساريږي او د بخښنې او مغفرت حقدار جوړيږي۔ علمائے کرام فرمائي: ✿ يو کَس پۀ خپل کور کښې دے او نفل نـمونځونه کوي ✿ بل کَس پۀ حرمِ پاک کښې دے او د کعبې شريفې پۀ خوا

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

کښې ناست دے هغې ته ګوري- فرمائي: دا (د کعبې په قرب کښې حاضر او د کعبې شریفې په جلوؤ کښې ډوب کس) هُغه (په کور کښې نفل نـمونځ کوونکي) نه افضل دے-[1]

سُبْحٰنَ الله! خومره د خوش قِسمتۍ خبره ده، صرف او صرف کعبې ته کتل آیا څۀ کم عبادت دے- د حدیثِ پاک مطابق په کعبه شریفه باندې **100 رحمتونه** راوريږي، په دې کښې **120** د هغوئي په حصه کښې راځي، څوک چې کعبې شریفې ته صرف ګوري- [2]

کاش چې زمونږه هم توفيق نصيب شي ❁ مونږ هم حج له لاړ شو ❁ کعبې ته وګورو ❁ طواف وکړو ❁ سعي وکړو ❁ عرفات او مزدلفې ته حاضري وکړو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډيره مزه به وکړي-

| | |
|---|---|
| یاخُدا! حَجّ پہ بُلا آکے میں کعبہ دیکھوں | کاش!اِک بار میں پھر میٹھا مدینہ دیکھوں |
| پھر مُیَسَّر ہو مجھے کاش وُقُوفِ عَرَفات | جلوہ میں مزدلِفہ اور مِنٰی کا دیکھوں |
| جُھوم کر خُوب کروں خانۂ کعبہ کا طواف | پھر مدینے کو چلوں گُنبدِ خضرا دیکھوں (3) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب!   صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ډير د شِدَّت والا آيت مبارک

صحابي رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پوښتنه وشوه چې: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قرآنِ کريم کوم آيت په تاسو باندې ډير د شِدَّت والا(سخت) وو---؟

---

1...اخبارِ مکہ للازرقی، باب ماجاء فی الرحمۃ التی تنزل...الخ، جلد:2، صفحہ:9۔
2...معجم کبیر، جلد:5، صفحہ:329، حدیث:11313۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:260۔

اوئې فرمائيل: يو ځل د حج موسم وو، د عربو مشرکان په مکه کښې راجمع شوي وو، زۀ په مِنیٰ کښې موجود ووم- هغه وخت حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام راغلو او دا آيت نازل شو:

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ (پاره:6، سورۀ مَآئِدہ:67)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے رسوله! کوم څۀ چې ستاسو طرف ته ستاسو د رب له طرفه نازل کړے شو د هغې تبليغ وکړئ-

پس د الله پاک د دې حکم په اوريدو زۀ ودريدم، ما خلقو ته غږ وکړو او اومې وئيل: اے خلقو--!! زۀ ستاسو طرف ته د الله پاک رسول راليږلے شوےيم، لَآاِلٰهَ اِلَّا الله ووايئ! او نجات حاصل کړئ--!! که تاسو دا وکړئ نو ستاسو د پاره جنَّت دے-

بس دا اوريدل وو چې ماشومانو، زلمو، زنانؤ، ټولو په ما باندې حمله وکړه، چا په ما باندې خاورې راواچولې او چا په کاڼو ويشتل شروع کړل- دغه وخت ما ته چا ووئيل: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که تاسو نبي يئ نو د دوئي خلاف هم هغسې د هلاکت دُعا وکړئ! لکه څنګه چې حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام کړې وه-

الله! الله! د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت او مهربانۍ ته وګورئ! څوک يې په کاڼو باندې وَلي، څوک پرې خاورې وراچوي، خلق مَعَاذَ الله! د ګستاخۍ نه ډکې جملې وائي، په داسې حالت کښې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا وکړه: اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِىْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ اے الله پاکه! زما قوم ته هدايت وکړې، بے شکه دوئي نۀ پوهيږي- (1)

سلام اُس پر کہ اَسرارِ محبّت جس نے سمجھائے

1... تفسیر در منثور، پارہ:6، سورۂ مائدہ، زیرِ آیت:67، جلد:3، صفحہ:117۔

سلام اُس پر کہ جس نے زَخم کھا کر پُھول برسائے
سلام اُس پر کہ جس نے خُوں کے پیاسوں کو قبَائیں دِیں
سلام اُس پر کہ جس نے گالیاں سُن کر دُعائیں دِیں

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا وه د اِسلام وړومبۍ مرحله---!! کله چې اِسلام خوریدل شروع شوو- یوه اوسنۍ زمانه ده، په مونږ کښې چې څوک کله حج له روان شي نو ❀ هغهٔ له اُمبارکۍ ورکړے کیږي ❀ د لرې لرې نه خپلوان ورله د میلاؤیدو د پاره راځي ❀ د ګلونو هارونه وراچوي ❀ د دعاګانو د پاره درخواستونه کوي ❀ عاشقانِ رسول ارمان کوي چې د حرم مبارک د دې خوش قِسمته مسافر نه زار شي- بل خوا د اِسلام هُغه وړومبۍ مرحله وه، د حج په دې ځایونو کښې ❀ د کعبې شریفې خوا ته ❀ په حرمِ پاک کښې ❀ د صفا او مروه په ځائے ❀ په مِنیٰ ❀ عرفات او مُزدَلِفه کښې د ټولو حاجیانو سردار، د ټولو جهانونو مالِک او مختار، محبوبِ رَبِّ غفار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به د نیکۍ دعوت ورکړو نو غیر مسلمو به په هغوئي باندې ډیر ظلمونه کول- د دې نه اندازه ولګوئ چې محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِین کار څومره په مشکلاتو سره کړے دے-

حق کی راہ میں پتھر کھائے خوں میں نہائے طائف میں
دین کا کتنی محنت سے کام آپ نے اے سلطان کیا [1]

## کلمه ووایئ---!! کامیابي حاصله کړئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حج په ورځو کښې به خلق د لرې لرې نه مکې مکرمې ته راتلل، د جهالت په زمانه کښې به هم دلته لوئي لوئي بازارونه لګیدل، خلقو به

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:197۔

پېښبې ډېر پۀ شوق او ذوق سره شرکت کولو- هٰغه وخت به ډېر خلق راجمع کېدل، ځکه به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې موقعې نه فائده اخستله او د نيکۍ دعوت به يې ښه ډېر کثرت کولو- روايت دے چې د نبوت د اِعلان نه پس پۀ وړومبو دريو کالو کښې به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِسلام دعوت پۀ پټه ورکولو، بيا هغوئي ښکاره دعوت شروع کړو- رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تر 10 کالو پورې مسلسل خلقو ته د نيکۍ دعوت ورکولو، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معمول مبارک وو چې هر کال به يې د حج پۀ موسم کښې د هرې قبيلې خوا له تشريف وړلو، هغوئي ته به يې د اِسلام دعوت ورکولو او فرمائيل به يې: تاسو اِسلام قبول کړئ! زۀ تاسو له د جنَّت زيرے درکووم خو افسوس چې چا به هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې دعوت باندې لَبَّيْكَ نۀ وئيلو-

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خيمو پۀ مخه باندې تېرېدلو، پۀ تيز اواز به يې وئيل: يَاۤاَيُّهَاالنَّاسُ! قُوْلُوْالَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ، تُفْلِحُوْا! اے خلقو--!! لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ ووايئ--!! کاميابي حاصله کړئ--!! که دا دعوت قبول کړئ نو د عربو مالِکان به جوړ شئ، عَجم به ستاسو ماتحت شي او ستاسو به پۀ جنَّت کښې اوچت مقامات نصيب شي- اَبُو لَهَب بد بخته به پۀ هغوئي پسې وروستو وروستو روان وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اِسلام دعوت ورکولو او هغۀ به پۀ تيز اواز وئيل: اے خلقو--!! د دۀ خبره مۀ اورئ، دا دروغژن دے. [1] (اَستَغفِرُالله! اَستَغفِرُالله!)

| | |
|---|---|
| پیمبر دعوتِ اسلام دینے کو نکلتا تھا | نویدِ راحت و آرام دینے کو نکلتا تھا |
| نکلتے تھے قریش اِس راہ میں کانٹے بچھانے کو | وجودِ پاک پر سو سو طرح کے ظُلم ڈھانے کو |

[1]...الطبقات الکبریٰ، جلد:1، صفحہ:168۔

مگر وہ منبعِ حِلم و صَفا خاموش رہتا تھا|دعائے خیر کرتا تھا جَفا و ظُلم سہتا تھا( 1 )

حضرت طارق بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زۀ (د حج پۀ ورځو کښې) پۀ ذُو المَجاز نومې بازار کښې ووم، پۀ دې کښې هلته يو صاحب تيريدلو، د هغوئي د مبارکو پنډو نه وينه بهيدله، هغوئي به فرمائيل: اے خلقو---!! کلمه ووايئ---! کاميابي حاصله کړئ! يو کَس پۀ هغوئي پسې وروستو وروستو روان وو، هغوئي يې پۀ کاڼو باندې ويشتلو- ما پوښتنه وکړه: دا څوک دے؟ چا ووئيل: **دا هاشمي دے، د نبوت دعوىٰ کوي او پۀ دوئي پسې شاته د دوئي ترۀ اَبُو لَهَب دے-**

## جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام يې خدمت وکړو

الله! الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** لږ سوچ خو وکړئ چې څومره د درد نه ډکې خبرې دي- زمونږ د خوږ آقا، د ځان د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د هغوئي پۀ نعلين شريف (يعني د مبارک پيزار) سره د لګيدلو مبارکو خاورو نه دې زمونږ پۀ شان د کروړونو سرونه قربان شي، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ کاڼو باندې ويشتلے کيدلو، د وجود مبارک نه به يې وينه بهيدله، تکليفونه به يې برداشت کول، د دې باوجود به يې هم د نيکۍ د دعوت عظيم کار جاري ساتلو-

يو ځل محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، د هغوئي پاک وجود پۀ وينو سور وو- پۀ دې کښې جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضر شو، عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څۀ وشول؟ اوئې فرمائيل: دې د مکې والؤ راباندې ظلم وکړو- بيا حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي پاک زړۀ ته د تسلۍ ورکولو د پاره عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مخامخ وَنه وينئ؟ هغه خپل طرف ته راوبلئ! خوږ محبوب صَلَّى اللهُ

---

1...شاہنامۂ اسلام، صفحہ: 117-118 ملتقطاً۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وَنه راووبلله نو وَنه فوراً پهٔ خدمت کښې حاضره شوه- بيا يـې د واپس تللو وفرمائيل نو وَنه واپس لاړه- پهٔ دې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے جبرائيله! (زما د زړهٔ د تسلىِ د پاره) دومره کافي ده-[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، حضرت جبرائيلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي توجه مبارکه دې طرف ته راګرځول غوښتل چې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو چې وَنې راووبلىِ نو هغه هم تابعداري کوي، پهٔ دې کښې اِشاره ده چې ستاسو د نيکىِ پهٔ دعوت کښې هيڅ قِسمه کمے نشته، قصور خو د هٰغه غير مسلمو د ړندو زړونو دے، کوم چې د پوهې او منلو نه عاجزه دي-

## د نيکىِ دعوت مشکل کار دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، ❁ دا هٰغه د اوچتې مرتبې هستي ده، د چا پهٔ برکت چې زمکه او اسمانونه جوړ کړے شو ❁ دا هٰغه هستي ده، کوم چې د ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام سردار دے ❁ دا هٰغه شخصيت دے چې د اسمان طرف ته مخ کړي نو الله پاک قبله بدلوي ❁ چې پهٔ ګوته باندې اِشاره وکړي نو سپوږمىِ دوه ټوټې شي، پريوتے نمر راوګرځي ❁ دا هٰغه دے چې مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحمَةُ اللهِ عَلَيْه وائي:

جو بات لبِ حضرتِ عیسیٰ نے دِکھائی | وہ کام یہاں جنبشِ داماں سے نکالا[2]

**وضاحت:** يعني د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دا شان وو چې د خاورو نه جوړ کړے شوو مرغو له به يـې پوکے ورکولو او پهٔ هغې کښې به يـې ساه اچوله، زمونږه د خوږ آقا

---

[1]...سنن دارمی، صفحہ:31، حدیث:23۔
[2]...ذوقِ نعت، صفحہ:61۔

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمدا شان دے چې د پوکې ضرورت هم نۀ پيښيږي، صرف اِشاره کوي او پۀ ساه نۀ لړونکو کښې ساه اچوي-

بندِ غم کاٹ دیا کرتے ہیں تیرے اَبْرُو | پھیر دیتا ہے بلاؤں کو اشارہ تیرا

دا حقيقت دے، د چا اِشاره چې آفتونه او بلاګانې لرې کوي، هٰغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمپۀ مکه مکرمه کښې 10 کاله موده داسې تيره کړله چې ✿ د مکې مکرمې غير مسلمو به ورته تکليفونه ورکول ✿ د وجود مبارک نه به يې وِينې بهيدلې ✿ چا به ورته مَعَاذَ الله! کنځلې کولې ✿ چا به ورله پۀ مبارکو، پاکو صفا سوترا جامو د خاورو اچولو جرأت کولو ✿ د اَبُو لَهَب پۀ شان بد بخته خو به پۀ کاڼو د ويشتو نه هم ډډه نۀ کوله، د دې باوجود به نۀ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمهغوئي ته ښيرې کولې، نۀ به يې د نيکۍ عظيم کار پريښودو بلکې د صبر او تحمل لکه چې پۀ غر جوړيدو يې تر 10 کالو پورې مسلسل تکليفونه برداشت کول-

## د الله پاک پۀ لار کښې تکليف برداشت کول سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے او هغه دا چې د دِين پۀ کار کښې مشکلات برداشت کول وي- دلته خلق ويريږي، حوصله بائلي او جدا شي، مثلاً عمامه شريف يې پۀ سر کړه، کور والؤ ورته خبرې شروع کړې، دا به حوصله بائلي او عمامه شريف به د سر نه کوزه کړي ✿ ګيره يې پريښودله، خلقو ورته خبرې شروع کړې! دا به مَعَاذَ الله! تنګ شي او ګيره به وخريوي ✿ د نيکۍ د دعوت د پاره ووتلو، خلقو ورسره بد تميزي وکړه ✿ چا ورته کنځل وکړل ✿ ديکه يې ورکړه ✿ خبرې يې ورته وکړې! نو بعضې نادانه حوصله بائلي- داسې مبلغينو له پکار دي چې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې تکليفونو ته وګوري- شيخ طريقت، اميرِ

اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلي دي: د الله پاک پهٔ لاره کښې تکليفونه برداشت کول هم سُنَّت دي او پهٔ دې باندې صبر کول هم سُنَّت دي او د سختو مشکلاتو باوجود د نيکۍ د دعوت سلسله جاري ساتل هم سُنَّت دي-(1)

سُنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں | نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکۍ دعوت ورکول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له هم د نيکۍ دعوت عام کول پکار دي، دا نيک کار د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے، د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت هم دي، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر د ټولو اخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې چې څومره انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام تشريف راوړے دے، د ټولو د تشريف راوړلو اصلي مقصد هُم د نيکۍ دعوت عام کول وو- پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| رُسُلًا مُّبَشِّرِیْنَ وَ مُنْذِرِیْنَ لِئَلَّا یَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ؕ (پارہ:6، سورۂ نساء:165) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (مونږه) رسولان زيري ورکوونکي او ويره اوروونکي (ليږلي دي) د پاره د دې چې د رسولانو (د ليږلو) نه پس د الله پهٔ دربار کښې هيڅ عُذر (باقي) پاتې نهٔ شي- |

معلومه شوه چې الله پاک نبيان او رسولان راوليږل د پاره د دې چې هغوئي خلقو ته جنَّت ته بوتللو والا اعمال وښائي، دوزخ ته د بوتلونکو اعمالو نه يې ويروي- د الله پاک بندګانو ته د الله پاک پيغام ورسوي د پاره د دې چې سبا د قيامت پهٔ ورځ څوک دا وه نهٔ

---

1...بھیانک اُونٹ، صفحہ:6-

وائي چې مونږ ته خو پيغام هم نۀ وو رارسيدلے۔[1]

## تاسو هم د نيکۍ دعوت ورکوئ!

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اندازه ولګوئ چې د نيکۍ دعوت ورکول څومره عظيم ترين کار دے۔ انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام څوک چې پۀ ټول مخلوق کښې افضل او اعلیٰ، ډير د اوچتې مرتبې والا دي، الله پاک د نيکۍ د دعوت عام کولو د پاره دوئي راليږلي دي۔ کاش چې مونږه هم د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پۀ نقشِ سيرت باندې روان شو او د نيکۍ دعوت عام کولو والا جوړ شو۔ الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ<br>(پاره:4، سورۀ آلِ عمران:110) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو بهترين اُمت يئ کوم چې د خلقو (د هدايت) د پاره ښکاره کړے شو، تاسو د نيکۍ حُکم ورکوئ او د بدۍ نه منع کوئ |

معلومه شوه چې د نيکۍ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول د هر مسلمان پۀ ذمه وارۍ کښې شامل دي خو افسوس چې نن د مسلمانانو اکثريت د دې ذمه وارو نه مخ اړولے دے۔ يو عجيبه سوچ پته نه لګي چې د کوم ځائے نه راغلے دے، مونږه ګڼو چې د نيکۍ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول صرف د مُليانو او اِمام صاحب کار دے، باقي دې ټول ځان له ګټي، خورې دې او مزې دې کوي۔

وروڼو خو دا ياد ساتئ چې د مَولوي يو مطلب دے: د الله والا۔ [2] که وکتلے شي نو

---

1... تفسير صراط الجنان، پاره:6، سورۀ نساء، زيرِ آيت:165، جلد:2، صفحه:359۔

2... فيضانِ علم وعلما، صفحه:11۔

هر مسلمان الله والا (يعني د الله پاک منلو والا) دے، پۀ مونږ کښې کيدے شي چې څوک هم ځان د شيطان منلو والا ته تيار نشي- چې ټول الله والا دي نو هُم ټول مُليان شول، آؤ! چا چې ګيره مبارکه نۀ ده پريښودې، دا د هغۀ غلطي ده، عِلمِ دين يې نه دے زده کړے، دا د هغۀ غلطي ده، هغه له پکار ده چې ګيره هُم پريږدي او علمِ دين هُم زده کړي، د نيکئ دعوت دې هُم ورکوي او بدو نه منع دې هُم کوي.

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَۃُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ټول مسلمانان مبلغين دي، پۀ ټولو باندې فرض دي چې خلقو ته د ښه خبرو حکم وکړي او د ګناهونو د خبرو نه يې منع کړي- (1) زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ اٰيَةً يعني زما د طرف نه ورسوئ اګر که يو آيت وي- (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ دې پۀ دې خبره لږ غور وکړو! مونږ چې د دِين د ځومره خبرو نه خبر يو، آيا هٰغه خبرې مونږه نورو ته رسوو؟ ❁ چا ته پته نشته چې 5 واړه نـمونځونه فرض دي؟ آيا مونږ نورو له د نـمونځ دعوت ورکوو؟ ❁ چا ته پته نشته چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې فرض دي؟ آيا مونږ د روژو نيولو دعوت ورکوو؟ ❁ چا ته پته نشته چې د قرآنِ پاک تلاوت د نيکئ کار دے؟ آيا مونږ د قرآنِ پاک د تلاوت دعوت ورکوو؟ ❁ چا ته پته نشته چې د سود لين دَين کول، سندرې اوريدل، فلمونه ډرامې کتل، بے پردګي وغيره دا ټول ګناهونه دي؟ آيا مونږ د دې نه خلق منع کوو؟ افسوس چې زمونږه اکثر خلق داسې دي کوم چې د دې کار نه منع کول نۀ کوي (يعني د ډيرو څيزونو پۀ باره کښې د

---

[1]... تفسير نعيمی، پاره:4، سورۂ اٰل عمران، تحت الآية:104، جلد:4، صفحه:79-

[2]... بخاری، کتاب احاديث الانبياء، صفحه:888، حديث:3461-

معلوماتو لرلو باوجود هم د نيکۍ د دعوت عام کولو نه محرومه وي)، مونږ ته چې څومره دِين معلوم دے، هُغه همره نورو ته نۀ رسوو او د نور عِلمِ دِين د زده کولو کوشش نۀ کوو۔

## د بهترين انسان نخښې

**پۀ حديثِ پاک کښې دي:** چا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وکړه چې: بهترين انسان څوک دے؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک نه ويريدونکے، صِله رحمۍ (يعني د خپلوانو سره ښه سلوک) کولو والا، ښې خبرې کوونکے او د ګناه نه منع کوونکے۔ (1)

## د الله او د رسول خليفه څوک---؟

اِمام حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې د ښو خبرو حکم کوي، د ګناهونو نه منع کول کوي، هغۀ د الله پاک خليفه دے، د هغۀ د رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هم او د هغۀ د کتاب (يعني د قرآنِ کريم) هم خليفه دے۔ (2)

## د نيکۍ د دعوت د پريښودو نقصانونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** لکه څنګه چې د نيکۍ دعوت ورکول بهترين عبادت دے، هم داسې دِيني کار پريښودل بد ترين جرم دے۔ **پۀ روايت کښې دي:** که مسلمانانو تبليغ پريښودو نو پۀ هغوئي باندې به ظالِم بادشاه مسلط کيږي او د هغوئي دعاګانې به نۀ قبليږي۔ (3)

اَللهُ اَکْبَر! الله پاک دې زمونږه پۀ حال باندې رحم وکړي۔ مونږ ټولو له د نيکۍ دعوت پۀ

---

[1] … شُعب الايمان، باب فى صلة الارحام، جلد:6، صفحه:220، حديث:7950۔

[2] … تفسير روح المعانى، پاره:4، سورۂ اٰل عمران، تحت الآية:104، جلد:4، صفحه:326۔

[3] … تفسير روح المعانى، پاره:4، سورۂ اٰل عمران، تحت الآية:104، جلد:4، صفحه:326 ملتقطاً۔

عام کولو کښې اخته کيدل پکار دي۔

## آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د دِين د تبليغ شوق

وګورئ چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکئ د دعوت عام کولو څومره شوق او جذبه وه۔ غير مسلمو به ورته تکليفونه رَسَول، هغوئي به صبر کولو او د نيکئ دعوت به يې ورکولو، هغوئي به په کاڼو ويشتلو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکئ د دعوت ګلونه عطا کول، هغوئي به د دوزخ د وور طرف ته تلل، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغوئي ته د جنَّت لاره ښودله، هغوئي به د ظلمونو نه نهٔ قلاريدل، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکئ د دعوت کار نهٔ بندولو۔ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه تاريخي جمله هم ياده کړئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: که دا خلق زما په ښي لاس باندې نمر او په بَل لاس باندې سپوږمئ هم کيږدي، نو بيا هم زهٔ دا کار هيڅکله هم نهٔ پريږدم۔(1)

بيا د شِعبِ اَبِي طالِب واقعه هم راياده کړئ! خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د نيکئ دعوت عام کولو نو د غير مسلمو به په دې باندې زړهٔ تنګيدلو، اخر هغوئي په شريکه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه او د هغوئي د ملاتړ کوونکو نه سوشل بائيکاټ وکړو۔ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د هغوئي کلمه لوستونکو او د هغوئي خاندان والؤ درې کاله په شِعبِ اَبِي طالِب (يعني د دوو غرونو ترمينځه په دره) کښې تير کړل۔ کافرانو به خوراک څښاک وغيره هيڅ هم دغلته د وړلو د پاره نهٔ پريښودلو۔ بيا حالت داسې شو چې په شِعبِ ابي طالِب کښې په موجودو مسلمانانو باندې لوږه غالبه شوه، ماشومانو د لوږې د لاسه ژړل، چغې به يې وهلې، دې کافرانو چې به د وړو ماشومانو چغې سورې اوريدلې

---

1...سيرتِ رسولِ عربي، صفحه:85۔

نو پۀ کړس کړس به يې ورېسې خندا کوله- هٰغه عظيم عاشقانِ رسول تر ډېر ورځو پورې وږي وو، بعضې وخت چې به پرې لوږه ډېره غالبه شوه نو د وَنو پاڼې به يې ويشولې او خوړلې-(1) حضرت سَعد ابن ابي وَقاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې يوه شپه هغوئي ته د وَچې شوې څرمنې يوه ټوټه ميلاؤ شوه حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هغه پۀ اوبو باندې وينځله، پۀ وور يې ورته کړه، پۀ اوبو کښې يې وړه وړه کړه او د سَتُّو پۀ شان يې وخښله او خپله لوږه يې پرې کمه کړه- (2)

| | |
|---|---|
| وہ بھوکی بچیوں کا رُوٹھ کر فِی الفَور مَن جانا | خدا کا نام سُن کر صَبر کی تصویر بن جانا |
| تڑپنا بھوک سے کچھ روز آخِر جان کھودینا | وہ ماؤں کا فلک کو دیکھ کر چُپ چاپ رو دینا |
| رِضا وصَبر سے دِن کٹ گئے اِن نیک بختوں کے | کہ کھانے کے لیے ملتے رہے پتّے درختوں کے |
| گزارے تین سال اِس رنگ سے ایمان والوں نے | دِکھادی شانِ اِستِقلال اپنی آن والوں نے (3) |

الله! الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې دا څومره مشکلات وو، کيدے شي که زمونږ پۀ شان خلقو ته د دې مشکلاتو 20 فيصده هم برداشت کول وو نو بے صبره کيدل به خو دا زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وو، د هغوئي د اوچت شان والا صحابه کرام عَلیھِمُ الرِّضوَان وو، د داسې مشکلاتو برداشت کولو باوجود نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نيکۍ د دعوت عظيم کار جاري وساتلو، تر دې پورې چې الله پاک اِسلام ته غلبه عطا کړله-

حق کی راہ میں پتھر کھائے خوں میں نہائے طائف میں

---

1...سیرتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحہ:139-140ملخصاً۔
2...الروض الانف، حدیث نقض الصحیفۃ، جلد:2، صفحہ:178-179۔
3...شاہنامۂ اسلام، صفحہ:133 بتقدم وتاخر۔

دین کا کتنی محنت سے کام آپ نے اے سلطان کیا [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دِین د خادِم فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یقیناً چې څوک د اللّٰه پاک د دِین خدمت کوي، اللّٰه پاک د هغهٔ مدد فرمائي- پهٔ 26 سیپارهِ سورهٔ مُحَمَّد، آیت: 7 کښې اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ یَنْصُرْكُمْ وَ یُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ۝ (پارہ:26، سورۂ مُحَمَّد:7) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! که تاسو د اللّٰه د دِین مدد کوئ نو اللّٰه به ستاسو مدد کوي او تاسو ته به ثابت قدمي درکوي- |

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې کوم بنده د اللّٰه پاک د دِین خدمت کوي ❁ عِلم دِین زده کوي ❁ نورو ته یې ښائي ❁ د نیکۍ دعوت عام کوي ❁ د دِین د خدمت د پاره کور کلے پریږدي ❁ د خپل بال بچ جدائي برداشت کوي ❁ لرې پرتو علاقو ته ځي او دِین خوروي ❁ پخپله هم نیکۍ کوي او د نورو هم د نیک نـمونځ ګزاره جوړولو کوشش کوي نو اللّٰه پاک د داسې بنده مدد کوي، هغهٔ ته پهٔ نیکو مقصدونو کښې کامیابي عطا کوي، که پهٔ هغهٔ مشکلات راځي، پریشانۍ راځي نو د هغهٔ مدد کولے شي او مفسرینِ کرامو تر دې پورې لیکلي دي چې څوک د دِین خدمت کوي، اللّٰه پاک پهٔ دُنیا کښې هغهٔ ته پهٔ ایمان باندې اِستقامت عطا کوي او پهٔ اخرت کښې به ورته پهٔ پل صِراط باندې ثابت قدمي عطا کوي-

| | |
|---|---|
| کرم سے نیکی کی دعوت کا خوب جذبہ دے | دُوں دُھوم سُنّتِ محبوب کی مچا یاربّ! |

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:197-

میں پُل صراط بلاخوف پار کر لوں گا | ترے کرم کا سہارا جو مل گیا یاربّ! [1]

## د اللّٰه پاک محبوب جوړوونکي خلق

د ناقلاره زړونو قرار، د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: آیا زۀ تاسو د داسې خلقو پۀ باره کښې خبر نۀ درکوم کوم چې نۀ پۀ انبیاؤ (عَلَیهِمُ السَّلام) کښې دي، نۀ پۀ شهیدانو کښې دي خو د قیامت پۀ ورځ باندې به انبياء (عَلَیهِمُ السَّلام) او شهیدان د هغوئي مقام ته پۀ کتلو رَشک کوي، هُغه خلق به د نُور پۀ منبرونو باندې اوچت ناست وي، دا هُغه خلق دي کوم چې د اللّٰه پاک بندګان د اللّٰه پاک محبوب (یعنې خوښ) بندګان جوړوي او هغوئي پۀ زمکه باندې (خلقو ته) نصیحتونه کوي او ګرځي۔ عرض وکړے شو: هغوئي ځنګه خلق د اللّٰه پاک محبوب (یعنې خوښ) جوړوي؟ اوئې فرمائيل: هغوئي خلقو ته د اللّٰه پاک د محبوب (یعنې خوښو) خبرو حکم کوي او د اللّٰه پاک د ناخوښه خبرو نه منع کول کوي، **پس چې کله خلق د هغوئي اطاعت کوي نو اللّٰه پاک هغوئي خپل محبوب جوړوي۔** [2]

## مُبلّغ محبوب نۀ بلکې محبوب ګر وي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې د نیکۍ د دعوت ورکونکو هم څومره اوچت شانونه دي، د قیامت پۀ ورځ باندې چې پۀ هغوئي باندې د اللّٰه پاک انعام ووینې نو انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلام او شهیدان به پرې هم رَشک کوي۔ یعنې د هغوئي پۀ مرتبې لیدلو به ډېر خوشحالیږي او د هغوئي تعریف به کوي۔ د دې عظمت او شان سبب به څۀ وي؟ دا چې هغوئي د نیکۍ پۀ دعوت ورکولو او د ګناه نه پۀ منع کولو او د خلقو پۀ با عمله

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:77 ملتقطاً۔
2...شعب الایمان، باب فی محبۃ اللہ، فصل معانی المحبۃ، جلد:1، صفحہ:367، حدیث:409۔

جوړولو هغوئي د الله پاک محبوب جوړوي- چې کله هغوئي نور د الله پاک محبوب جوړوي نو يخپله به محبوب ولې نۀ وي!

الله کا محبوب بنے جو تمہیں چاہے | اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تُم جسے چاہو(1)

## د جنَّتي جوړولو شوق

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځانګړے شوق وو، د هغوئي پاک زړۀ به هر وخت دې طرف ته مائل وو چې څنګه به خلق د دوزخ لاره پريږدي او د جنَّت پۀ لاره باندې به روان شي - دا ښکلے شوق د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ پاک زړۀ باندې دومره غالب وو چې يو ساعت به هم نۀ کميدو، **پۀ روايت کښې دي:** رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به غير مسلمو له د نيکۍ دعوت ورکولو، هغوئي له به يې د اِسلام دعوت ورکولو، د دوزخ د لارې پريښودو او د جنَّت طرف ته به يې رابلل، چې هٰغه غير مسلمو به کله د هغوئي خبره نۀ اوريدله، منلو ته به نۀ تياريدل نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډير غمژن کيدلو-(2) د قرآنِ کريم ډير آيتونه دي، کوم چې صرف د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تسلۍ د پاره نازل شو چې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا خلق کلمه نۀ وائي، د جنَّت پۀ لاره باندې نۀ روانيږي نو تاسو مۀ غمژن کيږئ، تاسو خپل زړۀ مۀ خفه کوئ- پۀ يو ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ عَلٰۤى اٰثَارِهِمۡ اِنۡ لَّمۡ يُؤۡمِنُوۡا بِهٰذَا الۡحَدِيۡثِ اَسَفًا ۝ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: که هغوئي پۀ دې خبره ايمان رانوړي نو کيدے شي چې تۀ پۀ هغوئي پسې د غم له وجهې خپل ځان ختم کړې- |

1...ذوقِ نعت، صفحہ:206۔

2... تفسیر صراط الجنان، پارہ:15، سورۂ کہف، زیرِ آیت:6، جلد:5، صفحہ:537 بتصرف۔

(پارہ:15، سورۂ کہف:6)

اَللّٰہُ اَکْبَر! دا دے شوقِ مصطفٰے، د محبوبِ ذیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اُمت باندې رحمت دے چې الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا غیر مسلمه کلمه نهٔ وائي، د دوزخ لاره نهٔ پرېږدي، د جنّت په لاره باندې نهٔ روانېږي، نزدې ده چې تاسو د دوئي په غم کښې خپل ځان ختم کړئ۔

الله! الله! وګورئ! د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نیکۍ د دعوت ورکولو او خلق د جنّت په لاره باندې د روانولو څومره شوق وو۔

## وور ته د غورځېدونکو پتنګانو مثال

په یو حدیثِ پاک کښې دي، خوږ نبي، ښه نبي، رښتوني نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زما او د خلقو مثال داسې دے چې مثلاً یوکَس وور بَل کړو، د هغې خواؤ شاه روښانه شوه، بیا پتنګان او واړه حشرات(خزنده) د دې د رڼا طرف ته په منډه منډه راځي او وور ته پرېوځي، هغه کَس پتنګان د وور نه منع کوي خو هغوئي نهٔ منع کیږي، هم وور ته ورغورځیږي۔ **پس زهٔ هغهٔ یم چې خلق رانیسم او د وور نه یې لرې راښکاږم او خلق دي چې وور ته ځان غورځوي۔**[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارک زړهٔ ښکلے ارمان دے، هغوئي غوارې چې خلق د دوزخ د لارې نه لرې شي او د جنّت په لاره باندې روان شي۔ هم دا هٔغه شوق او خواهش دے، د کوم په وجه چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په طائِف کښې د کاڼو ګزارونه هم وخوړل، وجود مبارک یې په وینو باندې سور هم شو، تر 10 کالو پورې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مسلسل د مکې

1...بخاری، کتاب الرقاق، باب الانتہاء عن المعاصی، صفحہ:1593، حدیث:6483۔

مکرمې والؤ له دعوت ورکولو، هر کال به يـې د حج پهٔ موسم کښې هم د نيکئ دعوت ورکولو، د يوې يوې قبيلې خوا له به تللو او دعوت به يـې هم ورکولو، اَبُو لَهَب او اَبُو جَهل بد بختو به پهٔ کاڼو باندې هم ويشتو، ښپې مبارکې به يـې پهٔ وينو باندې سرې شوې، د دې باوجود به هم رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکئ د دعوت کار نهٔ ودرولو، ټول تکليفونه به يـې برداشت کول او د دِين کار به يـې هم جاري ساتلو- اخر ولې---؟ ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارمان دے چې خلق جنّتيان شي-

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عزيز دے

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو صِفت ارشاد فرمائيلے دے:

| | |
|---|---|
| عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ (پاره:11، سورۀ توبه:128) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ هغوئي باندې ستاسو پهٔ مشقت کښې پريوتل ډير درانهٔ [ګران] تيريږي- |

د دې آيت لاندې پهٔ تفسيرِ نعيمي کښې دي: يعني پهٔ هغه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ستاسو هغه ګناهونه درانهٔ [ګران] دي کوم چې به تاسو مشقت يعني دوزخ ته رسوي- تاسو ګناه کوئ نو هغوئي نا قلاره کيږي، لکه د بدن يو اندام چې زخمي شي نو رُوح نا قلاره شي- (1)

سويا کئے نابکار بندے | رويا کئے زار زار آقا (2)

او مولانا حسن رضا خان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ليکلي دي:

بندے ہیں گنہگار بندے | آقا ہے کرم شعار آقا

---

1...تفسيرِ نعيمي، پاره:11، سورۀ توبه، زيرِ آيت:128، جلد:11، صفحه:153۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:35۔

| | |
|---|---|
| بندوں کا اَلَم نے دِل دُکھایا | اور ہو گئے بے قرار آقا |
| آرام سے سوئیں ہم کمینے | جاگا کریں باوقار آقا |
| ایسا تو کہیں سُنا نہ دیکھا | بندوں کا اُٹھائیں بار آقا (1) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له د ځان باره کښې غور کول پکار دي، آيا زمونږه په زړۀ کښې دا خواهش شته، آيا زمونږ په زړۀ کښې د ځان او د نورو د دوزخ نه د بچ کولو او د جنَّت په لاره د روانولو درد شته---؟ آيا زړۀ په دې باندې غمژن کيږي چې کاش زما ټوله کورنۍ نيکه نـمونځ ګزاره جوړه شي ❀ که مشر ورور نـمونځ نۀ کوي نو آيا مونږه د هغۀ د پاره غمژن کيږو؟ ❀ که په کور کښې مئيندې، خوئيندې، لونړه فيشن کوي، نـمونځونه نۀ کوي، د نيکۍ په لاره باندې نۀ روانيږي نو آيا مونږه غمژن کيږو؟ ❀ معاشره خرابيږي، جوماتونه شاړ کيږي، د ګناهونو اډې اباديږي، زمونږه ځوانان په عيش او عشرت کښې مصروفه وي او ژوند بربادوي، په معاشره کښې سود، حرام ګټل، حرام خوړل، ظلم او زياتے، غيبت، چغلي وعده خلافي، د مور پلار نافرماني وغيره وغيره ګناهونه عام کيږي، آيا زمونږ په زړۀ کښې په دې باندې څۀ درد پيدا کيږي؟ آيا مونږه غمژن کيږو؟ آيا مونږه په دې خبرو باندې خفه کيږو؟

کاش چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ په وسيله زمونږه هم دا غم نصيب شي، کاش چې ځان هم او خلق هم د دوزخ نه بچ کولو او او د جنَّت په لاره باندې د روانولو والا جوړ شو- يقين وکړئ چې دا فِکر، شوق او د زړۀ درد چې کوم دے زمونږه د معاشرې اِصلاح کولے شي، مونږه يو باعمله مبلغ جوړولے شي- ځکه مونږ له په خپل زړۀ کښې غم لازمي پيدا کول پکار دي-

1...ذوقِ نعت، صفحہ: 65 ملتقطاً۔

## پهٔ مِتيازو کښې به ترينه وينه تلله

د خپلې زمانې يو ډېر لوئي عالِم، ډېر لوئي مُحَدِّث حضرت سفيان ثَورِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ځل پنساريانو (يعنې د جړو بوټو دويانو خرخوونکو) ته د نيکۍ د دعوت ورکولو د پاره لاړو، واپس راغلو او اوئې فرمائيل: [تاسو ته] معلومه ده چې زهٔ د هغوئي د پوهه کولو د پاره ولې تلے ووم--؟ دې د پاره چې کله زهٔ څهٔ ګناه ووينم د کومې نه منع کول چې پهٔ ما باندې واجب وي، بيا که زهٔ د نيکۍ دعوت ورنکړم، د ګناه نه يې منع نهٔ کړم نو (د غم د زياتوالي پهٔ وجه) زما نه پهٔ مِتيازو کښې وِينه ځي-(1)

اَللّٰهُ اَكۡبَر! کاش چې زمونږه هم داسې غم نصيب شي، کاش چې داسې شي چې بس د نيک نمونځ ګزاره جوړولو مشين رانه جوړ شي، چرته چې کښينو، چرته چې ځو، د چا سره چې هم خبرې کوو، کاش چې د نيکۍ دعوت ورله ورکوو-

## پهٔ ګنهګارانو باندې مهربانه شئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا کومه چې د رحمت جذبه ده، دا چې کوم فِکر دے چې څوک ګناه وه نهٔ کړي او د دوزخ حقدار جوړ نشي، پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه د هغهٔ د دوزخ نه د بچ کيدو څهٔ حل راووځي، پهٔ يو ماهره مبلغ کښې دا جذبه هم ډېره ضروري ده- ❀ مونږه د نيکۍ پهٔ دعوت کښې سستي کوو ❀ شرم راځي ❀ ويره محسوسوو ❀ پهٔ بيا بيا پوهه کولو ستړي کيږو- دا ټولې چې کومې مسئلې دي د دې حل هم دا دے چې پهٔ ځان کښې د همدردۍ جذبه پيدا کړے شي- حضرت زُهَير بن نُعَيم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: پهٔ خدائے مې دې قَسم وي! زما دا خواهش دے چې زما خرمن پهٔ قينچيانو باندې

1...حلیۃ الاولیاء، جلد:7، صفحہ:15، رقم:9359-

پریکړې شي خو چې یو بنده هم د الله پاک نا فرماني ونکړي- ❁ حضرت حبیب عَجَمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه چې به کله د غضب والا آیتونه لوستل نو ژړل به یې او دُعا به یې کوله: اے الله پاکه! یا خو ټۀ ټول اوبخښې یا دا چې د ټولو ګنهګارانو پۀ ځائے صرف هم ما له عذاب راکړې او نور ټول ازاد کړې- ❁ حضرت شقیق بَلخِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: د چا چې پۀ ګنهګار باندې رحم نۀ راځي، هغۀ د هُغه ګنهګار نه هم پۀ بد حالت کښې دے- (1)

بهر حال! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له همدردي اختیارول پکار دہ، مونږ له دا فِکر پۀ خپل ځان کښې پیدا کول پکار دي چې پۀ څۀ نا څۀ طریقه خپل ځان او نور خلق د دوزخ نه پۀ بچ کولو کښې کامیاب شو---!! الله پاک دې زمونږه داسې فِکر نصیب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د نیکۍ د دعوت عام کولو طریقه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ اوسني وخت کښې د نیکۍ د دعوت عام کولو، بخپله هم د نیک نمونځ ګزاره جوړیدو او د نورو هم د جوړولو اسانه طریقه 12 دِیني کارونه هم دي ❁ سحر وختي راپاځئ، د سحر د نمونځ د پاره چې ځئ نو خلق ورسره راپاځوئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! سحر وختي به ډیرې نیکۍ وګټئ ❁ جومات ته چې ورسئ نو د تفسیر اوریدو او بیانولو حلقه ولګوئ ❁ ماسپښین یا د هر یو نمونځ نه پس پۀ جومات کښې درس ورکړئ ❁ کور والا راجمع کړئ او هغوئي له هم درس ورکړئ ❁ پۀ هفته کښې کم از کم یو ځل علاقائي دوره وکړئ ❁ کم از کم یوه ورځ د الله پاک پۀ لاره کښې ورکړئ ❁ پۀ قافلو کښې سفر وکړئ، بخپله یې هم وکړئ او پۀ ترغیب ورکولو، بیل د

1... تنبیہ المغترین، صفحہ: 99 ملتقطاً-

نيکۍ دعوت ورکړئ او نور خلق د قافلو مسافر جوړ کړئ- دا سعادت چې حاصل کړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د نيکو کولو او د نيکو دعوت ورکول به مو نصيب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بارګاه نه بلنه راغله

د قصور (پنجاب پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره تړون خو لرلو، خو په دِيني کارونو کښې د سستۍ ښکار ووم- د خوش قِسمتۍ نه په محرم شريف کال 1431ھ بمطابق جنوري کال 2010 ء د دعوتِ اِسلامي د يو ذمه دار اِسلامي ورور سره زما ملاقات وشو، چې کله هغوئي ته په دِيني کارونو کښې زما د خوښې نۀ ځرګنديدو پته ولګيده نو هغوئي زۀ پوهه کړم، د هغوئي په پوهه کولو نۀ يواځې زما د دِيني کارونو د کولو ذهن جوړ شو بلکې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په دِيني کارونو کښې يو دِيني کار يعنې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول مې هم شروع کړل د کوم برکت چې دا ظاهر شو چې په هُغه کال ما ته د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضرۍ سعادت رانصيب شو-

الله کرم ايسا کرے تجھ پہ جہاں ميں | اے دعوتِ اسلامی! تيری دھوم مچی ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نعت کوليکشن (*Naat Collection*) موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجي دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) په ذريعه هم عِلم دِين عام کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل

ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې: ***Naat Collection*** (نعت کوليکشن) دے۔ ❁ په دې ايپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتيِ اعظم هند، مولانا حسن رضا خان، مولانا جميل رضوي، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم او د امير اهلسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❁ په هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او رديف په ترتيب سره کتلے شئ۔ د سرچ بار په ذريعه د خپلې خوښې کلام په آسانئ سره لټولے شئ ❁ مختلف کلامونه په آډيو/ويډيو کښې اوريدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ❁ د خپلې خوښې په کلام نخبنه لګولے شئ او بيا بيا يې اوريدے شئ ❁ تاسو د خپلې خوښې کلام په مائي کليکشن ***My Collection*** فيچر کښې محفوظ کولے شئ۔ کلام يا شعر کاپي کولے شئ او په واټس ايپ، فيس بک، ټويټر وغيره باندې يې شيئر کولے هم شئ۔ دا ايپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

## د قربانۍ څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اِسلام او د مسلمانانو په خدمت کښې مصروف دے، په دې نيک کارونو کښې تاسو هم خپله حصه شامله کړئ! لوئي اختر رانزدې دے، عاشقانِ رسول به د قربانۍ سعادت حاصلوي۔ خواست دے چې د خپلو خپلو څاروو څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم يا څرمن په ذريعه به په ټوله دنيا کښې جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې او د آمدنئ زياتولو جائز او محفوظه کارونه کولے شي، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! دا به ستاسو د پاره صدقهٔ جاريه وي۔ د دې سره سره په خپله کوڅه او محله کښې، خپلو خپلوانو ته فون وغيره وکړئ او هغوئي له هم د دې ترغيب ورکړئ! په خپل کوشش باندې څرمنې هم راجمع کړئ! اِنۡ

شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د دې به هم برکتونه در نصیب کېږي، **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** چا چې د څهٔ خیر طرف ته رهنمائي وکړه هغهٔ ته به پهٔ دې باندې د عمل کوونکي همره ثواب میلاوېږي۔ [(1)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

✿ اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د ذُو الـحج شریف مبارکه میاشت روانه ده، د دې مبارکې میاشت پهٔ وړومبو لسو ورځو کښې شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه روزانه د شپې تقریباً 9:30 بجې پهٔ **مَدَني چینل** باندې **مَدَني مذاکره** کوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ✿ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه یا خلیفهٔ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **بغیر د حج کولو د حج ثواب** رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د اللّٰه پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر **(Share)** کړي! ✿ د خلیفهٔ امیرِ اهلِسُنَّت مولانا عبید رضا عطاري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د اثر او د محبت نه ډک بیانونه اوس پهٔ لیکلي شکل کښې پهٔ نوم **بیاناتِ خلیفهٔ امیرِ اهلسُنَّت (جلد: 1)** پهٔ مکـتبة الـمدینه کښې موجود دي۔ تاسو دا لیکلي ګلدسته پهٔ **650 روپۍ** د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه په بیعه واخلئ! ځپله یې هم ولولئ! او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ! د شرعي تقاضو مطابق قرباني کولو، د

---

[1]...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حدیث:2671۔

ډونيټ قربانۍ په ذريعه د خپلې قربانۍ غوښه په غريبانو ويشلو يا په اجتماعي قربانۍ کښې د حصې اچولو د پاره د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذمه دارانو سره رابطه وکړئ .
الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي. آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قرباني د خوږ مصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم سنت ده

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم **دوه فرمانونه** :(1) :څوک چې په خوشحالئ سره، د ثواب د پاره قرباني وکړي، د هغه قرباني به د هغه او دوزخ تر مينځه رکاوټ جوړه شي[2]. (2): ستاسو د پاره د قربانۍ د څاروي د هر ويښته په بدل کښې يوه نيکي ده. [3]

اے عاشقانِ رسول! خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم به په اهتمام سره قرباني کوله، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنها فرمائي: حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ته يو برګ ګډ وړاندې

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
[2]... معجم کبير، جلد:2، صفحہ:213، حديث:2670-
[3]...ابن ماجہ، کتاب:الاضاحی، باب:ثواب الاضحيہ، صفحہ:510، حديث:3127-

کړے شو کوم چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو مبارکو لاسو ذبح کړو. [1] ۞قرباني په هر هغه بالغ، مقيم مسلمان نارينه او ښځه باندې واجب ده څوک چې مالِکِ نصاب وي (يعنې د چا سره چې دوه پنځوس نيمې (52.5) تولې سپين زر يا د دومره ماليت پيسې يا د دومره ماليت د تجارت مال يا د دومره ماليت د حاجتِ اصليه نه علاوه سامان وي[2] ۞څوک چې د استطاعت باوجود قرباني نه کوي، د داسې کس په باره کښې آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې هغه دې زمونږ عيدګاه ته نزدې نه راځي. [3] ۞حضرت بابا فريد الدين ګنج شکر رَحمۃُاللهِ عَلَيْه فرمائي :څوک چې صدقه او قرباني نه کوي هغه نه سکون واخستلے شي. [4] ۞د قربانۍ په وخت کښې قرباني کول لازم دي، د بل کومه څيز (يعنې د روپو وغيره په ذريعه صدقه) ناکافي ده. [5]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال **محمد** الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو

1…مسلم، کتاب الاضاحی، باب استحباب الضحیة…الخ، صفحہ:782،حدیث:1967۔
2…فتاوٰی ہندیہ، کتاب الاضحیہ، باب فی تفسیرھا ورکنھا…الخ، جلد:5، صفحہ:360-362ملتقطاً۔
3…ابن ماجہ، کتاب الاضاحی، باب الاضاحی واجبۃ ام لا، صفحہ:509، حدیث:3123۔
4…فیضان بابا فرید، صفحہ:65۔
5…فتاوٰی ہندیہ، کتاب الاضحیہ، باب فی تفسیرھا ورکنھا…الخ، جلد:5، صفحہ:363۔

گر مدینے کا غم چاہئے چَشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعے او زيارت مينځئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[2]

راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:669۔
2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر

---

1 ... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧
2 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١۴٩

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرۡضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا ھُوَ اَھۡلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵
2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵